# نګارشات چراغ
## (زما په نظر کښې)

نګارشات چراغ د ډاکټر سید چراغ حُسین شاه صاحب د هغه مقالو مجموعه ده چې وخت په وخت په مختلفو مجلو کښې خو چاپ شوي دي خو په کتابي صورت کښې لا تر اوسه نهٔ دي چاپ ـ اوس چې ډاکټر چراغ صاحب دغه مقالې او خوارهٔ لیکونه په کتابي شکل چاپ کول او د پښتو باذوقه او علمي طبقې ته وړاندې کول غواړي نو ورسره ئې زما د رائې او تبصرې غوښتنه هم کړې ده چې زهٔ ئې د ډاکټر صاحب لهٔ خوا پهٔ ما د اعتماد او اعتبار پیرزوئنه او خپل ځان د پاره د فخر او ویاړ سرمایه ګڼم ـ
د ډاکټر صاحب علمي لیکونو سره زما اشنائي ډیره زړه ده ـ ما د هغوئ د نګارشاتو مطالعه د هغه وخت نه کوله چې ډاکټر صاحب مې لا لیدلے هم نهٔ وهٔ ـ زما او د ډاکټر صاحب تعلق او پیژندګلو د همغوئ همدغه علمي لیکونه، مقالې او نګارشات وو چې زهٔ ئې د هغوئ سره د عقیدت او احترام پهٔ رشته کښې تړلے وم او تر دې دمه ئې د دغه سحرناک اثر نه وتے نهٔ یم ـ د نن نه تقریباً دوویشت کاله مخکښې چې ما د حمزه بابا سپیڅلې ویناوې د حضرت علي رضي الله عنه د نهج البلاغه پهٔ پښتو ترجمه یو وړوکے کتاب ګوتے لیکلے وهٔ نو د ملاقات نهٔ کیدلو باوجود د ډاکټر صاحب د علمي لیکونو د رعب او تاثر پهٔ نتیجه کښې مې پهٔ خپل کتابګوټي د ډاکټر چراغ حُسین شاه صاحب رائې اخیستلو د پاره هغوئ ته مسوده لیږلې وه کله چې هغهٔ پهٔ لکي مروت کښې د ډې ایچ او سرکاري وظیفه تر سره کوله ـ هغه وخت کښې زما زلمیتوب وهٔ او د ډاکټر صاحب د علمي او ادبي عروج زمانه وه ـ پهٔ خپل لیک کښې ئې زما ډیره حوصله افزائي کړې وه ـ د دغه لیک نه دوه کاله پس چې کال 2000ء کښې زهٔ د ډي ـ آئي ـ خان ګورنمنټ کالج ته د لکچرار پهٔ حیث لاړم نو ډاکټر صاحب د ډي ـ آئي ـ خان د لوئ اسپتال مشر (M.S) وهٔ ـ زهٔ به پهٔ هره دوئمه یا درئمه ورځ کور ته ورتلم او ورسره به مې پهٔ مختلفو علمي او ادبي موضوعاتو اوږدهٔ بحثونه کول ـ ډاکټر صاحب به هم زما هاسټل ته راتلو چرته چې زهٔ واردن وم ـ دغسې به مو د بحثونو سلسله روانه وه ـ علمي تنده به مو هم ماتیدله او ما به د ډاکټر صاحب نه زده کړه هم کوله ـ دې دوران کښې ما د ډاکټر صاحب د چاپ لیکونو او مقالو مطالعه هم کوله ـ د هغوئ تذکره پیرسباک مې ولوستو او د هغوئ د مقالو مجموعې دود چراغ او انوار چراغ مې هم ولوستې ـ دغې نه پس ډاکټر صاحب د حمزه بابا خطونه د "ژوندي خطونه" پهٔ نوم چاپ کړل چې پهٔ کښې پهٔ حمزه بابا د علمي مزاح سره سره د ډاکټر صاحب د علمي او ادبي میلان اندازه هم ښهٔ پهٔ اسانه کیدله ـ وروستو بیا ډاکټر صاحب خپلې افسانې هم د " نالیدلي بلا " پهٔ نوم چاپ کړې ـ خپل سیاسي یاداشتونه او سیاسي شخصیاتو سره د نزدیکت ، مشاهدات او تاثرات ئې هم پهٔ کتابي شکل چاپ کړل ـ سفر نامې ئې هم

وليکلې ـ تر دې چې د طنزومزاح په شکل ئې د ځينو استادانو زړۀ راښکونکي تاثرات، واقعات او مشاهدات هم په کتابي صورت کښې محفوظ کړل ـ دا هر څۀ خپل خپل اهميت لري خو د ډاکټر صاحب غالب رجحان د علمي، تحقيقي، تاريخي او تنقيدي مقالو په طرف دے چې دا اوسنۍ مجموعه " نګارشاتِ چراغ " ئې د دغه لړۍ يوه بله کړۍ ده ـ

ډاکټر چراغ صاحب په خپلو علمي ليکونو کښې ډير پراخ او ګڼ اړخيز شخصيت لري ـ هغه په يو وخت د ادب په ډيرو اړخونو سره د تاريخ ، علم الاساطير، تهذيب او تمدن،بشرياتو، عمرانياتو، نفسياتو، مذهبياتو، تصوف او روحانياتو او فنون لطيفه د ګڼو اړخونو خور مطالعه لري او د خپلې دغه خورې مطالعې عکس او نقش په خپلو ليکونو کښې ډير په خوږ‌ه پيرايه، ساده او سليسه ژبه، د زوردار بلاغت، پوره استدلال او منطق سره په يو ځانګړي اسلوب کښې وړاندې کوي او په خپل لوستونکي يو غير معمولي اثر پرېږدي چې د هم دغو ځانګړو خصوصياتو په تناظر کښې ئې مونږ د دې مجموعې "نګارشاتِ چراغ " لوستنه او کتنه کولے شو۔

ما ئې د دې مقالو مطالعه وکړه او د خپل فکر تر مخه مې په څلورو برخو اوويشلې چې يوه برخه ئې د علم الاساطير (متهالوجي) سره تعلق لري ـ دويمه برخه ئې د تاريخ ، دريمه د آرټ او هُنر سره او څلورمه برخه ئې د ادب او تنقيد سره اړه لري چې دا څلور واړه برخې پخپله د تحقيق او څېړنې مزاج او رنګ لري ـ دې کښې زياتې مقالې په داسې وخت او ماحول کښې ليکلې شوې دي چې پښتو او پښتنو کښې د تحقيق باقاعده اصولو او نوې متهډالوجي لا پوره رواج نۀ وۀ موندلے خو ډاکټر صاحب بيا هم خپلو ټولو مقاالو سره باقاعده ماخذونه ښودلي دي او د خپلو دليلونو او نتيجو د پاره ئې باقاعده حوالې ورکړې دي کوم چې زمونږ د مشرانو ليکونکو او څېړونکو عمومي روش دے ـ په دې مقالو د بحث او تبصرې په وخت زۀ پخپله هم د مشکل سره مخ يم چې هره مقاله د بېئيل بېئيل تفصيلي بحث او څېړنې غوښتنه کوي خو داسې به دا بحث د يوې سريزې يا مقدمې په ځائ د پوره کتاب شکل واخلي او په مختصر مجموعي تاثر کښې هم په دې علمي ليکونو د تبصرې حق نۀ ادا کيږي ـ ځکه زۀ کوشش کوم چې په ټولو مقالو خبره وکړم خو ببخي په اختصار سره ـ چې داسې د دې علمي ليکونو يو مجموعي خاکه خو رامخې ته شي ـ زۀ دا وضاحت هم ضروري ګڼم چې د ډاکټر صاحب خورې مطالعې او وقار ته ګورم نو ورسره د اختلاف جرأت خو نۀ شم کولے البته خپله رائې به د پوره احترام او عقيدت سره ضرور وړاندې کوم چې زما دغه رائې به هم په هيڅ صورت حتمي او هر چا د پاره قابل قبول نۀ وي خو لکه څنګه چې ډاکټر صاحب په خپلو ليکونو کښې خپله رائې او مؤقف د خپلو سندونو او دليلونو سره وړاندې کړے دے دغسې زۀ هم چې کوم تاثر او مؤقف لرم په پوره ارادې او ايماندارۍ سره ئې پېش کوم ـ

د دې مجموعې د وړومبۍ برخې دوه مقالې د علم الاساطير سره تعلق لري چې په معروضه اصطلاح کښې ورته ميتهالوجي (Mythology) وئيلے شي ـ دغو دوو مقالو کښې يوه د ميتهالوجي په عنوان ليکلې شوې ده چې دغه مقاله بيا په خپله هم په دوه برخو کښې ويشلې شوې ده ـ يوه برخه ئې د عمومي ميتهالوجي بحث سره تعلق لري او دويمې برخې کښې ئې د پښتنو په ميتهالوجي بحث شوے دے ـ دويمه مقاله "د افغانانو ديو مالائي قيصې" نېغ په نېغه د پښتنو ميتهالوجي د بحث لاندې راولي ـ دا دواړه مقالې ډيرې زړۀ راښکونکې او د ډاکټر صاحب د خورې مطالعې نچوړ رامخې ته کوي، چې وړومبۍ په عمومي توګه د ميتهالوجي تعريف او وضاحت شوے دے ـ د يوناني او د هندي ميتهالوجي پس منظر ښودلے شوے دے ـ ورسره د مصري اساطيري روايت د سيوري لاندې د بابل، نينوا، سومير او بيا د ايران او پښتنو د اساطيري اوتهذيبي رواياتو جائزه ډيره په ښکلې طريقه اخيستې شوې ده ـ ډاکټر صاحب په دې بحث کښې د نفسياتو او عمرانياتو د عالمانو مؤقف هم وړاندې کړے دے چې ډير غور غواړي ـ ځکه چې نفسيات دان عموما" د انساني فکر د داخلي نظام په وسيله د اساطيري رواياتو تجزيه کوي او د عمرانياتو ماهرين ئې د خارجي ټولنيزو عواملو او په ټولنه کښې د انسان د تهذيبي ارتقأ په بنياد جاج اخلي ـ د نفسياتو ماهر وائي چې اساطير او ميتهالوجي په بنيادي توګه د موجوده انسان د هغو خيالاتو او تفکراتو د داخلي جهان نه وجود مومي چې انسان ئې د خپلې ماضي په حقله د يوټوپيا يا تصوراتي جهان په وسيله رامخې ته کوي خو د عمرانياتو ماهرين او بيا په خصوصي توګه ترقي پسند او سائنسي فکر نمائنده دانشور کارل مارکس داسې ګڼي چې انسان د سائنسي فکر په نتيجه کښې په خپلو تخيلاتو او تصوراتي دنيا قابو راولي نو ګويا د تهذيبي ارتقأ سره اساطيري روايات د زوال سره مخ کيږي او انسان د مادي حقيقتونو د ادراک په لور راځي ـ دغه دواړه خبرې په خپل ځائ خپل خپل اهميت لري خو ډاکټر چراغ صاحب چې دې بحث کښې کومې اهمې نکتې ته اشاره کوي هغه دا ده چې په اساطيري رواياتو او ميتهالوجي کښې د اکثرو تهذيبونو د يو بل نه د لرې والي باوجود يو رنګ قيصې او روايات رامخې ته کيږي ـ او هم په دغه بنياد ځينې پښتانۀ اساطيري روايات هم د يونان او مصر د اساطيري رواياتو سره سمون او نزديکت لري ـ هرڅو که په ايراني او افغاني اساطيرو کښې نزديکت يوه فطري خبره ده چې جغرافيائي او تهذيبي بنيادونه ئې مشترک دي خو زړۀ راښکونکې خبره دا ده چې په پښتنه ميتهالوجي کښې د شرخبون قيصه د مصري تهذيب د موسی عليه السلام روايت سره سمون خوري ـ دضحاک بادشاه ايشائي روايت د سامي اساطيرو سره نزديکت لري ـ او په ځنو موقعو د پښتنو اساطير د يوناني راويت تسلسل ښکاري ـ تر دې چې د پښتنو په رومانوي قيصو لکه آدم درخانۍ، يوسف شيربانو وغيره د هندي او ايراني اثراتو نه علاوه مصري او عربي اثرات جوت ښکاري ـ د دې مطلب دا هم کيدے شي چې د ټولې نړۍ اساطيري روايات او ميتهالوجي د مجموعي انساني ارتقأ ، تهذيبي او تمدني پرمخ تګ او

کلتوري اشتراکاتو عکس هم رامخې ته کوي ـ تر دې چې د سامي راویت د طوفانِ نوح د قیصې تصور د نړۍ په ګڼو تهذیبونو کښې د ډیرو مشترکه خصوصیاتو سره زمونږ مخې ته راځي ـ ګویا اساطیر او میتهالوجي د لږ ډیر توپیر سره د ټول انسانیت مشترکه میراث هم دے ـ ډاکټر صاحب دغه ټول نکات په یوه مختصره مقاله کښې ډیر په هُنر سره رایوځائ کړي دي ـ ډاکټر صاحب دغه تسلسل کښې خپله دویمه مقاله "د افغانانو دیومالائي قیصې" کښې هغه مشهور روایت هم بیان کړے دے چې زمونږ په پښتني کلتور ژوند کښې د ایچ کافر په قیصه مشهور دے ـ د دغه روایت تر مخه د موسی علیه السلام په وخت کښې ایچ کافر دومره لوئ او اوږد قد لرلو چې د اسمان نه به ئې سر ټیټ وړلو ـ دغه روایت کښې د دغه کافر قد درې زره درې سوه دیرش ګزه ښودلے شي ـ دغه روایت د بني اسرائیلو د تهذیبي ژوند سره تړلے ښودلے شوے دے، چې د مصري اساطیرو برخه ده خو پښتني تهذیبي ژوند کښې هم د دغه روایت ازانګې شته چې ډاکټر صاحب ئې اساطیري تړون د افغانستان او بیا د بنو سیمې سره تړلے ښائي او دغسې دا روایت په مصري تهذیب کښې د یوسف علیه السلام دور سره منسوب هم ښودلے شوے دے چې ډاکټر صاحب ئې په پښتنیي تهذیب کښې نسبت د بامیان سیمه کښې ځنو تهذیبي اثارو سره هم ښائي خو د اساطیري پس منظر تر مخه په پښتنه سیمه کښې بیا د ایچ کافر قیصه د حضرت علي رضي الله عنه د مجاهدانه کردار سره هم منسوب ده، چې د دغه کافر په مقابله کښې د اتل کردار حضرت علي رضي الله عنه لوبولے وۀ ـ دې لړ کښې ډاکټر صاحب د ابن اثیر او ځینو نورو مؤرخینو حوالې هم ورکوي خو دا خبره دې په نظر کښې وساتلې شي چې د دغه روایت بنیاد هم اساطیري دے، تاریخي نۀ ـ تر دې چې زمونږ ځنې تاریخونه پخپله اساطیري اثرات لري چې د حقیقت سره ئې تعلق جوړولو د پاره نۀ خو مستند دلائل شته او نۀ دغو قیصو کښې کوم منطقي ربط او تسلسل په نظر راځي ـ خو ډاکټر صاحب په خپل مؤقف کښې تر دې حده خو ربښتونے ښکاري چې د پښتني تهذیب اساطیري روایات هم د نړۍ د انساني تهذیبي ارتقأ د مشترکه ورثې یوه برخه ده چې پخپله د پښتنو یو اجتماعي دانش او شعور ته اشاره کوي ـ

د نګارشات چراغ دویمه اهمه برخه د تاریخي لیکونو ده چې زیاتې مقالې ئې د پښتنو په اصل نسل، جغرافیه، تاریخي شخصیاتو، قامي او ملي شناخت، ژبه، تهذیب او کلتور لیکلې شوې دي ـ د پښتنو په ژبه، تاریخ او جغرافیه ډیر څۀ لیکلي شوي دي ـ ګڼ شمیر نظرئې رامخې ته شوې دي ـ د ګڼو زاویو نه یو شمیر تبصرې، تجزیې او نتیجې څرګندې شوې دي چې په دغه پس منظر کښې د سامي او آریائي تهذیبي روایاتو او تاریخي دستاویزاتو په بنیاد شوي تحقیقات او نتیجې په شدت سره زمونږ مخې ته دي ـ د سامي او بني اسرائیلي نظرئیو روایت هر څو که د پښتنو د نسلي او جغرافیائي څیړنو مرکز او محور پاتې شوے دے او یوه اوږده موده ئې په تاریخي او تحقیقي لیکونو خپل نقوش او اثرات ثبت کړي پریښې دي خو د وروستي دور تاریخ لیکونکو او څیړنکو عمومًا" د دغو اسرائیلي او سامي نظریاتو په مقابله کښې آریائي، یوناني او ځنې نور نظریات وړاندې کړي دي ـ ډاکټر چراغ حُسین شاه صاحب په

خپلومقالو کښې بيا هم د همدغو سامي او بني اسرائيلي نظرياتو پلوي او مرستيال ليدے شي چې په خپلو ګڼو مقالو کښې ئې خپل مؤقف وړاندې کړے دے ۔ د خپل مؤقف په مرسته کښې ډاکټر صاحب د تاريخ، بشر پوهنې، مذهب، جغرافيې، ژبپوهنې، تر دې چې سائنسي نقطۀ نظر هم وړاندې کړے دے ۔ خو بيا هم د هغوئ رائې او څېړنې سره د اختلاف ګنجائش په خپل ځائ موجود دے ۔ د تاريخ د برخې په دې قسمه مقالو کښې ډاکټر صاحب يوه مقاله د "پښتون او پښتو ژبه" په عنوان ليکلې ده، چې د پښتون قامي او ملي شناخت د پاره ئې څلور اهم شخصيات ښودلي دي ضحاک، افغانه، قيس او کرلاڼ ۔ دغو څلورو شخصياتو کښې ئې د پښتنو د مشر په حېث د قيس زيات شهرت او اهميت په ګوته کړے دے ۔ تر دې چې د قيس په مناسبت ئې د پښتنو سيمې د پاره د قيسستان نوم هم تجويز کړے دے ۔ او بيا ئې د قيس عبدالرشيد هغه روايت هم بيان کړے دے کوم چې د حضرت محمد صلے الله عليه وسلم په وخت کښې د خپلو دريو زامنو سړبن، غورغښت او بيټن سره د خپلې قبيلې او د پښتنو د من حېث القوم مسلمان کيدلو په اړه بيانيږي ۔ البته ډاکټر صاحب دې اهمې نکتې ته اشاره کړې ده چې زمکه، سيمه يا جغرافيه بنيادي حېثيت لري او نسل يا قام بنئيل ۔ زمکه په ځائ پرته وي او نسلونه يا قامونه خوريږي چې په همدغه بنياد پښتانۀ هم په مختلفو وختونو کښې د خپلې خاورې، زمکې او سيمې نه خوارۀ شوي دي او نورو سيمو ته کوچيدلي دي ۔ البته پښتانۀ بيا هم په بنيادي توګه د سامي نسلونو باقيات دي چې قيس پکښې يو ممتاز نوم او د پښتنو مشر تير شوے دے ۔ د قيس او قيسستان دغه تسلسل ډاکټر صاحب په خپله يوه بله مقاله " قيسستان " کښې هم جاري ساتلے دے ۔ او د پښتنو د نسلي شناخت د پاره ئې وړومبې خو ئې د يونانيانو په حواله د پکټس، د ايرانيانو په حواله اب غان يا اپاکان او عربو په حواله د سليماني د نومونو وضاحت په تاريخي تناظر کښې کړے دے او بيا د قيس د يو حقيقي وجود په حېث ئې خپل دليلونه وړاندې کړي دي ۔ دې لړ کښې ډاکټر صاحب دځنې عربي مؤرخينو لکه ابن اثير او حافظ ابن الحجر عسقلاني يادؤنه هم کړې ده او د قيسي قبيلو په حېث ئې د پښتنو د دوه سوه پنځۀ ويشت ( 225) قبيلو ذکر هم کړے دے او بيا په دغه پوره تاريخي پس منظر کښې ئې د پښتنو سيمو د پاره د قيسستان د نوم تجويز هم غوره ګڼلے دے ۔ د خپل دغه مؤقف تائيد ډاکټر صاحب د دې مجموعې په يوه بله مقاله " سليمان غر ـــــاولنے افغان ټاټوبے" کښې هم کوي ۔ مونږ وړاندې يادؤنه کړې ده چې د پښتنو ټاټوبي د پاره د سليمان غر اصطلاح په عربي روايت کښې ذکر شوې ده ۔ چې دغه اصطلاح د بني اسرائيلي پښتنو د سليمان غر په لمنه کښې د اوسيدو په مناسبت مخې ته راغلې ده او وروستو چې په پښتنو قبيلو کښې د قيس بن سديد (قيس عبدالرشيد) وشو نو همدغه سليمان غر د قيس په وجه د کسې غر په نوم مشهور شو۔ يعني د قيس د دريو زامنو په مناسبت سړبني، غورغُشتي او بيټني قبائل دغه د کسې د غر په لمنه کښې اباد شوي وو چې دغه لړ کښې سور غر، شوال او کوهستان سيمه ايز اصطلاحات هم د تاريخ سرچينه ده

چې ډاکټر چراغ حُسین صاحب ئې وړومبۍ افغان ټاټوبے بولي ـ ډاکټر صاحب پۀ دې مقاله کښې هم د هغو ماخذونو نه استفاده کړې ده کوم چې د سامي او بني اسرائیلي روایت مرسته کوي ـ تاریخ خورشید جهان، تواریخ حافظ رحمت خاني او د روشن خان کاکا کتابونه دې لړ کښې زیات اهمیت لري چې بنیادي ماخذ ئې هم هغه د نعمت الله هروي مخزن افغاني دے چې ډاکټر صاحب پۀ دغو ټولو ماخذونو تکیه کړې ده او خپلې نتیجې ئې ترې راویستې دي ـ د دې مجموعې د تاریخ د برخې پۀ مقالو کښې دوه مقالې داسې هم دي چې د سامي او بني اسرائیلي روایت نه علاوه د اریائیي نظرئې پۀ مرسته کښې هم د بحث لاندې راتلے شي ـ خو پۀ دغو مقالو کښې ډاکټر صاحب د استناد پۀ حواله د ځینو ستونزو تذکره کړې ده ـ د پښتنو د ټاټوبي او جغرافیائي شناخت پۀ ضمن کښې ډاکټر صاحب د " روه، روهي او روهیله " پۀ عنوان چې کومه مقاله لیکلې ده پۀ هغې کښې ئې د پښتنو د ټاټوبي پۀ حواله د ویدي ادب د پکټیکا او پکهت یادؤنه هم کړې ده او د ایراني نوشتو پۀ حواله ئې د بلخ، باختر، خراسان، کوهستان او روهستان ذکر هم کړے دے ـ دې نه علاوه ئې د افغانیه ، ګندهارا او پښتونخوا سره سره د عربي روایت د سلیمان غر پۀ مناسبت د سلیمانستان او بیا د خپل مؤقف د بنیادي نکتې قیسستان ذکر هم کړے دے ـ پۀ همدغه مقاله کښې بیا زیاته توجه د روه پۀ مناسبت د روهیله او روهیلے تاریخي جائزه د قبل مسیح د دور نه اخیستے شوې ده چې د دغه اصطلاح ګڼ شمیر مثالونه زمونږ د پښتو پۀ کلاسیکي شاعرئ کښې هم شته ـ مونږ چې د خوشحال بابا، رحمان بابا، حمید، کاظم خان او علي خان پۀ شاعرئ کښې دهند او هندوبار پۀ مقابله کښې روهیله او روهیلے اصطلاحات وینو نو اندازه کیږي چې دغه کلاسیکي شاعران د پښتنو د سیمې پۀ مناسبت دغه اصطلاحات د ډیر وروستي دور سره تړلي یادوي چې عمومًا" پۀ هند د افغان او مُغل د شخړې د تسلسل ترجماني کوي خو بیا هم دغه مقاله ډیره علمي ده چې د ډاکټر صاحب پۀ دې موضوع د ګرفت او خورې مطالعې ثبوت ورکوي ـ د آریائي نظرئې کومو ستونزو ته چې مونږ وړاندې اشاره وکړه، هغه د ډاکټر صاحب د یوې مقالې "بیستون د کتبې تحلیل سره تړلې کشالې" سره تعلق لري ـ د ایران ښار شیراز سره نزدې سیمه بیستون کښې چې کومه مشهوره کتبه موندلې شوې ده او د 240کرښو پۀ تحریر کښې کومې درې کرښې یا مصرعې د پښتو ښودلې شي، دغه سند عمومًا" د پښتنو د نسلي شناخت پۀ ضمن کښې د آریائي نظرئې مرستیال وړاندې کوي ـ خو بیا هم د ډاکټر صاحب خبره درسته ده چې دغه درې مصرعې هر څو که ځینې مستشرقین او پښتنو کښې عبدالحئ حبیبي او نورو څو افغانانو دانشورانو سره سره ډاکټر شیرزمان طائزے ، ګوهر رحمان راز، عبدالکریم بریالے او ځینې نور پښتانۀ ئې پښتو ګڼي خو ورسره د مستشرقینو یوه ډله ، ایراني دانشور او ځینې پښتانۀ ئې فارسي ګڼي ـ میکډونل ئې سنسکرت بولي او څو نور ماهرین نورې رائې هم لري ـ خو پۀ دې مقاله کښې د ډاکټر صاحب څېړنه ډیره زړۀ راښکونکې ده چې وړومبۍ خو یادو شویو ستونزو ته اشاره کوي او بیا د څو

ماهرینو پهٔ حواله د دغو مصرعو د تجزئې سره وائي چې د دې مصرعو نزدیکت د پشائي ژبې سره دے . دې لړ کښې ډاکټر صاحب د پائیني د ګرائمر پهٔ حواله د هنیان او پکتیان د لهجو ذکر هم کړے دے چې د پښتو لهجې ګڼلې شوې دي . خو پهٔ نتیجه کښې وائي چې پشائي پخپله پښتو ته ډیره نزدې ده ځکه دغه درې مصرعې پښتو ګڼل هم د قیاس نه لرې خبره نهٔ ده . ځکه دغه مقاله د ډاکټر صاحب د سامي او بني اسرائیلي مؤقف نه لرِه فاصله هم لري خو د ډاکټر صاحب پهٔ څېړنه او شننه تر ډیره حده قناعت تر لاسه کیږي ، ځکه زهٔ ئې د دې مجموعې د تاریخي برخې ډیره اهمه او د غور وړ مقاله ګنم چې پهٔ دې موضوع د څیړونکو او لیکونکو د پاره د غور و فکر لوئ دروازې پرانیزي . "وړوکې بُخارا" د دې مجموعې د تاریخي برخې یوه بله مختصره مقاله ده چې پکښې د عقاب خټک د تاریخِ خټک، څڅلی مجلې او ځنو اوریدلو روایاتو پهٔ بنیاد د خټکو او مروتو د سیمې د دوو زړو او تاریخي کلیو شنوه او ګُډې خیلو پهٔ حقله څېړنه شوې ده او پهٔ عمومي ډول د دغو کلیو د پیرانو، قاضیانو او مذهبي رجحاناتو جائزه اخیستې شوې ده . دا مقاله هم د اختصار باوجود د لیکونکي د ژور فکر و نظر غمازي کوي . د تاریخ د برخې یوه بله مقاله پهٔ دې مجموعه کښې " د پښتنو د اصل نسل او د نسب سائنسي تجزیه" پهٔ عنوان شامله ده ، چې زما پهٔ خیال پهٔ دې موضوع بیخي نوې څېړنه ده او پهٔ خصوصي توګه د دې زاوئې نه د لا زیاتې توجه بلنه هم ورکوي . پهٔ دغه مقاله کښې ډاکټر صاحب وړومبې خو دې خبرې ته اشاره کړې ده چې د پښتنو پهٔ اصل نسل او نسب پهٔ تاریخي حواله ډیرې لیکنې شوې دي خو ضرورت د سائنسي تحقیقاتو دے چې او بیا ئې د میډیکل د ډي . این. اے پهٔ بنیاد د پښتنو د حسب نسب سائنسي تحقیقات د بحث لاندې راوستي دي . چې پهٔ دغو تحقیقاتو کښې هم د ډاکټر میلان د سامي او اسرائیلي نظریاتو پهٔ لور ښکاري . هغوئ دې لړ کښې شلمې صدئ کښې د هغه یهودي نسلونو تحقیقاتو ته اشاره کړې ده چې د خپلو لسو ورکو قبیلو لټون ئې شروع کړے وهٔ . نو بیا د یوې اسرائیلي څیړنکارې حواله ورکوي چې هغې هم د یهودي نسل پهٔ لټون کښې د ځنو افغاني یهودو مماثلت موندلے وهٔ . ډاکټر صاحب دا هم اشاره کړې ده چې ځنې افغاني څیړونکي پښتانهٔ د روس نه راغلي نسلونه یادوي . او ځنې وائي چې د ایراني ، باختري او هندوستان سوري خاندانونو سره د عربو منګولو او ترکو منګولو د یلغارونو نه پس د افغانانو او تاجکو ګډون شوے دے چې د ډي این اے د ټیسټونو نه پس افغانان او تاجک یو بل ته ډیر نزدې څرګند شوي دي . دې لړ ډاکټر چراغ حسین شاه صاحب د هزارې د سیمې د ډاکټر ناصر احمد د پي ایچ ډي مقالې حواله هم ورکوي چې هغهٔ پهٔ کال 2013ء کښې د پښتنو پهٔ اصل نسل د ډي این اے پهٔ بنیاد څېړنه کړې وه . خو د هغهٔ د تحقیق تر مخه د پښتنو ډي این اے یهودو سره سمون نهٔ خوري، البته د ډاکټر ناصر احمد ټیسټونه هم عمومًا" د ښار د خلقو شوي وو او ضرورت د دې خبرې وهٔ چې د پښتنو د 405خیلونو ډي این اے شوے وے . دغه شان ډاکټر چراغ حسین شاه صاحب پهٔ کال 2006 عیسوي

کښي د سين ګپتا د تحقيق حواله هم ورکړې ده چې پکښي ئې د افغانستان پنځۀ وردګ، د خيبر پښتون خوا يو پښتون او د هنزه يو اوسيدونکے د ټيسټونو د پاره شامل کړي وو چې د ټيسټونو دا مقدار هم د تسلي وړ نۀ دے ـ هرڅو که د ډاکټر چراغ حسين شاه صاحب پۀ دغه مقاله کښې د سائنسي تحقيقاتو نه کوټلې نتيجه نۀ ده راوتې خو د دې مقالې اهميت بيا هم غير معمولي ځکه دے چې پۀ دې توګه د سائنسي تحقيقاتو پۀ لور د ډيرونکيو توجه راګرزولې شوې ده ـ او ربښتيا هم دغه سائنسي تحقيقات مونږ د تسلي وړ نتيجو ته رسولې شي ـ خو مشکل دا دے چې پۀ نن دور کښې د نړۍ يو نسل هم داسې پۀ لاس نۀ شي راتلے چې وينه ئې خالصه پاتې وي او د دې اين اے تحقيقات ئې پۀ نسلي تعين کښې کوټلې نتيجه رامېنځ ته کړي ـ د دې هر څۀ باوجود زۀ د ډاکټر صاحب دا مقاله د غير معمولي اهميت وړ بولم او د دې مجموعې د تاريخ د برخې يو د قرر وړ ډيرنه ئې ګڼم چې توقع ئې هم د ډاکټر چراغ حسين شاه صاحب غوندې زيرک څيړن کار اود طب ماهرنه کيدے شوه ـ البته د تاريخ د برخې پۀ مقالو زما مجموعي تأثر دا دے چې د پښتنو د اصل نسل، حسب، شجرو، تاريخ او جغرافيې پۀ لړ کښې چې ډاکټر چراغ صاحب د سامي او بني اسرائيلي روايت او نظرئيو پۀ لور ميلان لري، دې لړ کښې دا هم پۀ نظر کښې ساتل ضروري دي چې د دغه ميلان د پاره دوه غټ اواهم روايات زمونږ مخې ته راځي ___ يو د سليمان غر يا د کسۍ د غر افغان ټاټوبي سره تړلې معلومات او دوئم د قيس بن يزيد يا قيس عبدالشيد د دريو زامنو سړبن، غور غښت او بيټن پۀ حواله د پښتنو قبيلو ويش او تاريخي پس منظر _____ دغه دواړه روايات د تاريخ سره سره اساطيري پس منظر هم لري ـ تر څو چې د سليمان غر يا کسۍ د غر خبره ده نو دغه روايت د تخت سليمان سره منسوب هم يادولے شي ـ د سليمان دغرونو جغرافيائي سمون خو د ګومل او بيا د هندوکش د غرونو نه راواخله د پښتونخوا او د پښتنو د سيمو نه د افغانستان پۀ لاره تر ايراني غرئيزو سيمو ځان رسوي چې پۀ کښې د قندهار او زابل سيمې هم شامليږي ـ د غرونو پۀ دغه لړۍ معروف مستشرق تهامس هولډچ چې کوم رپورټ تيار کړے وۀ هغې کښې ئې هم دغه غرونه د پښتنو ټاټوبے ګڼلے دے ـ خو کوم روايت چې اساطيري رنګ لري هغه دا دے چې وئيلې شي چې د دې غرونو پۀ اوچته سطح به سليمان تخت ايښودلے شو- پۀ دې غور پۀ کار دے چې د تخت سليمان دغه روايت د سليمان غر نه علاوه يا د پښتنو د غرئيزې سيمې نه علاوه د ايران پۀ شيراز ښار کښې هم د تخت سليمان ځاي ښودلے شي ـ دغه شان د تخت سليمان مرکز پۀ آزر بائيجان کښې هم ښودلے شي ـ د کرغيزستان پۀ سيمې کښې هم د تخت سليمان مرکز ښودلے شي نو د تاريخ نور مُستند ماخذونه خو د حضرت سليمان عليه السلام او د هغۀ د تخت نسبت د پښتنو د سيمې سره هډو ښودلے نۀ دے او بيا لا زياته حيرانوونکې خبرره دا ده چې د پښتنو پۀ دې سيمه يعني ګومل، ژوب او درابڼ پۀ غرونو کښې چې د قيس بابا سره يو مزار هم منسوب ښودلے شي نو بيا نسبت ئې د سليمان غر سره هم ښائي _____ چرته

حضرت سليمان عليه السلام او د هغهٔ دور او چرته قيس عبدالرشيد او د هغهٔ دور _ تر مېنځه ئې د زرګونو کالو فاصله ده ـ پهٔ دې هم غور پهٔ کار دے چې د قيس او د هغهٔ د درې زامنو روايت چې د حضرت محمد صلے الله عليه وسلم پهٔ دور کښې ښودلے شي ـ نو دغه د يو پلار او درې زامنو روايت خو پهٔ ځنو نورو مصري، هندي او ايراني تهذيبونو کښې هم شته چې د ايراني روايت تذکره ئې معروف مؤرخ احمد علي کهزاد د حضرت محمد صلے الله عليه وسلم نه يو نيم زر کاله مخکښې پهٔ ايراني ليکونو او پشتونو کښې کړې ده ـ د دې مطلب دا دے چې د تخت سليمان او قيس بن يزيد يا قيس عبدالرشيد د تاريخ نه زيات اساطير ښکاري ـ او بيا هم جوتيږي چې دغه قيصې که تاريخ وي او که اساطير خو د پښتنو قبيلوي او جغرافيائي شناخت سره ئې تعلق هم نيشته ـ مونږ که د ثقه تاريخ نه استفاده کوو نو سامي او عربي نسلونه خو د محمد بن قاسم نه مخکښې هډو برصغير ته راغلي نه دي او نهٔ پښتانهٔ د محمد بن قاسم دور نه مخکښې عربو يا نورو سامي سيمو ته تلي دي ـ دومره قدر خبره ده چې د حضرت عُمر رضي الله عنه پهٔ دور کښې د عربو او برصغير د خلقو ليدل کتل يواځې د سمندرونو پهٔ غاړو د تجارتي معاملاتو پهٔ لړ کښې شوي دي ـ چې دغو ليدلو کتلو د يو بل پهٔ تهذيبونو، ژوند، عقائدو او ټولنيز ژوند اثرات نهٔ دي مرتب کړي ـ دا هر څهٔ چې مونږ د پښتنو د عربو سره د نزديکت پهٔ حواله کوو، عمومًا" ئې د مذهبي عقيدت پهٔ جذبه کوو او يا ئې د اساطيري رواياتو پس منظر کښې کوو۔ لکه څنګه چې د ايچ کافر قيصه د موسی عليه السلام يا بيا د يوسف عليه السلام دور نه تر حضرت علي رضي الله عنه دور پورې بغير د کوم منطقي ربط نه راروسس۔ دا خو لا څهٔ کوې چې زمونږ د پښتنو پهٔ خېبر کښې د حضرت علي رضي الله عنه او خيبرۍ بي بي مقابلې هم رامخې ته کوو،د حضرت علي هجويري داتا ګنج بخش پهٔ نوم پهٔ خېبر کښې جوړ شوے جمات د علي مسجد پهٔ نوم د حضرت علي رضي الله عنه سره منسوب يادوو ـ د خيبر پهٔ غرونو کښې پهٔ اوچتو کانو کښې د لاس پنجه او د ګوتو نخښې د حضرت علي رضي الله عنه د لاس او ګوتو نخښې يادوو۔ پهٔ دې هر څهٔ او د عقيدت پهٔ دغه جذبه هم غور پهٔ کار دے۔

د نګارشاتِ چراغ د آرټ او هُنر پهٔ برخه کښې درې مقالې شاملې دي ـ انډ و افغان سکول آف آرټ ، پښتو کښې ادبي انځورګري او پښتنو کښې د هُنر د خاوندانو مقام ـ هر څو که مونږ دغه مقالې د آرټ او هُنر نه علاوه د تاريخ، ادب، عمرانياتو، بشرياتو او ارکيالوجي احاطه هم کوي خو مونږ ته پته ده چې آرټ او هُنر د ټول ژوند احاطه کوي ـ نو پهٔ آرټ او هُنر ليکلې شوې دغه مقالې به هم د ژوند د ګڼو اړخونو ترجماني کوي ـ انډ و افغان سکول آف آرټ ډېره علمي او زړهٔ راښکونکې مقاله ده چې ډاکټر صاحب د چيني سيلاني ماهيان د ټيکسلا د سيل نه شروع کړې ده او د افغاني سکول آف آرټ د وړومبو نخښو درک ئې د کشاني بادشاهانو پهٔ دور400 عيسوي کښې لګولے دے او د بدهمت د تاريخي اثارو پهٔ

مطالعه کښې ئې د آرټ او نخښو ته اشارې کړې دي، هرڅو که پهٔ کال 460 عیسوي کښې د هُن قوم دحملې سره پهٔ ټیکسلا کښې د کاڼو د هُنر ځنې نمونې تباه شوې هم وې خو ډاکټر صاحب دغه دور د افغاني هُنر د کاڼي د دور وړومبۍ نمونه ګڼي او پهٔ حقه ئې ګڼي ـ ډاکټر صاحب دې لور ته هم اشاره کړې ده چې کشاني بادشاهانو د دور کومې نخښنې چې پهٔ ټیکسلا یا نورو پښتنو سیمو کښې پاتې شوې دي دا د افغاني هُنر نمونې ځکه دي چې کشانیان هم دلته د باختر نه راغلي وو او د پښتنو یا افغانانو زوړ ټاټوبے هم پاتې شوے دے ـ دلته د افغان اصطلاح تر څهٔ حده د بحث موضوع جوړیدے شي چې دا اصطلاح خو دومره زړې تاریخي ریخې نهٔ لري خو ډاکټر صاحب د هیون نسانګ پهٔ حواله د افغان زوړ شکل اب ګان یا اپاګان پهٔ لور هم اشارې کړې دي ـ هرڅو که د دې نه مخکښې پهٔ ویدي ادب کښې د پښتنو شناخت د پکهت او پکهتین پهٔ نومونو شوے دے او زهٔ پخپله هم دغه اصطلاح د پښتنو د شناخت د پاره درسته او مناسب ګڼم، خو مونږ چې پهٔ هر نوم د پښتنو د آرټ نخښې لټوو نو د پښتنو سیمه پکښې د نظره نهٔ شو غورزولے ـ د پښتنو پهٔ تهذیبي مرکزونو کښې د کندهار (زوړ آراکوریا + آراچوسیا) او ګندهارا تهذیبونه د پښتنو د آرټ ډیرې نخښې پخپله لمن کښې محفوظ ساتلي دي ـ د صوابۍ وړوکے لاهور او هنډ بیا د تخت بهائی زړې نخښې، د پشکلاوتي آثار، شهباز ګړئ، سوات او ځینې نورې پښتنې سیمې د پښتنو د هُنر ګویانه نمونې رووړاندې کوي چې ډاکټر صاحب ئې د اند و افغان سکول آف آرټ نمونې ګڼي ـ زهٔ د ډاکټر صاحب د دې فکر ستائینه چې د آرټ او هُنر دغه مکتب ته ئې د پښتنو یا افغاني شناخت نوم ورکړے دے ـ د دې مقالې پهٔ لوستو دا احساس هم رامخې ته کیږي چې پښتانهٔ پهٔ نړۍ کښې د جنګ وجدل نمائندګان خو ګڼلې شي خو ولې د آرټ او هُنر پهٔ میدان کښې د نظره غورزولې شي ـ نو ګویا چې ډاکټر صاحب د دغه تاثر تردید هم د خپل فکر او قلم پهٔ زور پهٔ دې مقاله کښې ښهٔ پهٔ شدت سره کړے دے چې زهٔ ئې هم کلک مرستیال یم ـ ما چې څومره هم د ډاکټر صاحب د لیکونو مطالعه کړې ده نو پهٔ دې نتیجه رسیدلے یم چې هغه د لوستونکیو توجه ډیرو نوو زاویو او اړخونو ته را اړوي ـ هغهٔ پهٔ خپله بله مقاله "پښتو کښې ادبي انځوګري" کښې هم دغه رجحان لري چې وړومبے خو د مصورۍ د مشهورو نړیوالو مکتبونو پیژندګلو کوي ـ د امپریشنلزم، فیوچرزم،سررئیلزم وغیره دبستانونه واجح کوي او بیا ادبي انځورګرۍ ته راځي چې د خوشحال، رحمان، حمید د خیالي تصویرونو او ورسره ټړلو تصوراتو جائزه اخلي ـ د پښتو د ادبي کتابونو او مجلو پهٔ سر ورق (ټائټلونو) او ځنو نورو فنه اړخونو تبصره کوي ـ د سمندرخان، غني خان، عقاب خټک، عبدالحلیم اثر، حمزه بابا او همیش خلیل د ادبي خدماتو نه علاوه د هغوئ د ادبي انځوګرۍ پهٔ لور هم ځنې اشارې کوي او دغسې د آرټ او هُنر پهٔ میدان کښې یو نوي باب او بحث ته لارې پرانیزي ـ زما پهٔ خیال که ډاکټر صاحب دې نه پس د پښتود کلاسیکي دیوانونو او کتابونو پهٔ خطاطۍ، مصورۍ او نقاشۍ هم یوه بئیله مقاله ولیکي او د مختلفو کاتبانو د لیک

کمال او هُنر هم څرګند کړي نو دا به هم يوه ګټوره بخښنه وي ـ خو پهٔ موجوده شکل هم د ډاکټر صاحب د فکر ندرت د خورا ډيرې ستائينې حق لري ـ زهٔ ئې د فکر دا زاويه هم ستائم چې پهٔ خپله مقاله "پښتنو کښې د هُنر د خاوندانو مقام" کښې ئې هغه خلق د هُنر خاوندان ياد کړي دي چې زمونږ پهٔ ټولنه کښې ورته کسب ګر، خدمت ګار او ډمان وئيلې شي ـ غور وکړئ چې يو کولال د خټو نه کوم لوښے جوړوي، يو جولا يا نداف د تارونو او کپړې نه کوم لباس جوړوي او يا داسې نور د کسب او هُنر خاوندان چې کوم تخليقات راوړاندې کوي نو پهٔ دغو تخليقاتو کښې د دغو هُنر د خاوندانو د ګوتو کمال او نزاکت څومره د اعلى مقام وي ـ ځکه خو ډاکټر صاحب د دغو هُنر خاوندانو د مقام تعين پوره درناوي او قدردانۍ سره کوي او زمونږ پام يو نوي اړخ ته هم را اړوي چې د دغو خلقو پهٔ کار او زيار د هُنر او آرټ د زاوئې نه غور او فکر وکړو ـ

پهٔ دې مجموعه کښې څلور مقالې داسې دي چې مونږ ئې ادب او تنقيد پهٔ زمره کښې د بحث لاندې راولو۔ دغو مقالو کښې پښتو ناول، پښتو شاعرۍ کښې غُلونکے متکلمانه عنصر، پښتو ادب کښې ملحمه او پښتو کښې ځُدي خواني شاملې دي ـ پښتو کښې د ناول ابتداء خو د ترجمې پهٔ ذريعه د نولسمې صدۍ پهٔ وروستو لسيزو کښې شوې وه خو د طبع زاد ناول ابتداء بيا پهٔ کال 1912 عيسوي کښې د راحت زاخيلي د نتيجهٔ عشق سره کيږي ـ تر کال 1950 عيسوي پورې د پښتو ناول سفر ډير سست دے ـ خو د معيار پهٔ لحاظ پهٔ کښې د صاحب زاده ادريس د " پيغله " او د حمزه بابا د " نوې چپې" غوندې د تسلي وړ ناولونه هم ليکلې شوي دي او بيا وروستو خو د نورمحمد ترکۍ، سيد رسول رسا او ډاکټر شير زمان طائزي غوندې نوموړو ليکونکيو د پښتو ناول جولۍ ته ډير څهٔ اوبخښل ـ دغو اهمو نومونو نه پس حسن خليل پښتو ته يوولس ناولونه او پرويز شيخ اتهٔ لس ناولونه اوبخښل ـ او بيا چې د افغانستان نوو ليکونکيو هم دې ميدان کښې زغل وکړو نو پښتو ناول ئې ډير غني کړو ـ خو لهٔ بده مرغه د ناول کوم نقاد او "پړونکے تر ډيرې مودې د پښتو پهٔ برخه نهٔ شو ـ د څو مختصرو مضمونونو او سريزو نه علاوه ما پهٔ کال 2000 عيسوي کښې پهٔ وړومبي ځل د پښتو ناول پهٔ تحقيقي او تنقيدي جائزه مشتمل يو کتاب وليکلو چې وروستو بيا څو نورو ليکونکيو هم دغه لار وپالله او يو نيم کتاب هم مخې ته راغلو ـ د ډاکټر صاحب دې مجموعه کښې شامله مقاله پهٔ کال 2005 عيسوي کښې ليکلې شوې ده ـ مختصره مقاله ده خو د پښتو ناول د جائزې اخيستلو ډير اړخونه ئې روښانه کړي دي ـ د ناول د تعريف او فني عناصرو نه علاوه ئې لنډ تاريخ ئې هم بيان کړے دے ـ او بيا ئې پهٔ تدريجي ډول د پښتو ناول سفر واضح کړے دے چې پکښې د رسا صاحب، ډاکټر طائزي، ترکۍ، حبيب افغاني او څو نورو ناول نګارو د ناولونو جاج اخيستے شوے دے ـ د پښتو ناول د طالب علمانو، زده کونکيو او لوستونکيو د پاره دغه مختصره مقاله هم ډير مواد لري ـ

"پښتو شاعرۍ کښې غلوونکي متکلمانه عنصر" د دې مجموعې د ادب او تنقيد د برخې ډېره زړۀ راښکونکي ليکنه ده، چې ډاکټر صاحب پکښې وړومبے خو د غلوونکي متکلمانه عنصر وضاحت کړے دے او د انګريزۍ د ډيماګاک (Demagogue) يا اوريټر (orator) پۀ حواله ئې جوته کړې ده چې څنې ليکونکي د خپل فن يا فنپارې ډېرې خامۍ او کمۍ پۀ بيان تحت الفظ او ترنم کښې د پټولو هُنر لري ـ ډاکټر صاحب دې لړ کښې د اردو ادب نه پۀ نظم او ترنم کښې د حفيظ جالندهري او پۀ بيان، تقرير يا اداکارۍ کښې د ضياء محي الدين مثالونه ورکړي دي ـ دغسې د علامه اقبال نظمونه به چې زيډ اے بخاري وئيل نو خوند به ئې ورله پۀ څو چنده نور هم زيات کړو. د اقبال پۀ نظمونو يا د حبيب جالب پۀ کلام کښې به خامي يا کمۍ نۀ وي خو تاثير به ئې پۀ وينا، تحت الفظ او ترنم کښې نور هم زيات وۀ ـ پښتو شاعرۍ کښې د دې غلوونکي تکلمانه عنصر ډاکټر صاحب د سمندر خان سمندر د نظم "دروند پښتون" د ترنم او موسيقۍ حواله ورکوي ـ او د غني خان د شاعرۍ د فني خاميو قابو کښې راوستلو د پاره د سردار علي ټکر د موسيقۍ او ترنم حواله ورکوي ـ د هاشم بابر شاعري پۀ ليک او لوست کښې هغه اثر نۀ ښائي کوم چې د هاشم بابر پۀ وينا او انداز کښې ښائي ،بلکې د عبدالرحيم مجذوب پۀ وينا د بابر شاعري چې پۀ انګريزي کښې ترجمه شي نو ابلاغ ئې زيات مؤثر شي ـ پۀ دې ليکنه کښې ډاکټر صاحب د اجمل خټک، مجذوب او د حمزه بابا د شاعرۍ مثالونه هم ورکړي دي ـ او بيا د رحمت شاه سائل پۀ شاعرۍ، انداز بيان او ترنم خو ئې ډېر زيات تفصيل سره خبره کړې ده، چې دا هر څۀ ډېر خوند لري او د ډاکټر صاحب بحث ډېر پۀ اسانه لوستونکي ته قناعت هم ورکوي ـ

پښتو ادب کښې ملحمه د پښتود رزميه او حماسي شاعرۍ تفصيلات رامخې ته کوي چې ډاکټر صاحب د خپل مزاج او اسلوب تر مخه وړومبے ملحمه تورے تشريح کوي ـ د عربۍ، فارسۍ او اردو د رزميه روايت سره سره د يونانۍ، لاطينۍ او انګريزۍ ژبو پۀ Epic هم تبصره کوي او بيا د پښتو د رزميه شاعرۍ جاج پۀ زړۀ راښکونکي انداز کښې اخلي چې د خوشحال بابا نه راواخله تر اولسي صنفونو چاربيته او بدله پورې اصناف پکښې د خپل بحث موضوع ګرزوي ـ

" پښتو کښې څُدي خواني" داسې مقاله ده چې پۀ دې موضوع ما ته پښتو کښې د مستند ليک يواځې نمونه ښکاري. ډاکټر صاحب پۀ دې مقاله کښې هم د حُدي خوانۍ پۀ وضاحت کښې د اوښانو د سندرو يا کوچيائي ژوند سره تړلو زمزمو يادونه کړې ده ـ پۀ فارسي او عربي ادب کښې د حُدي خوانۍ پس منظر ئې بيان کړے دے او بيا پۀ پښتو کښې د څنو اولسي سندرو، تيراوالو ټپو، غاړو او پۀ ترنم او موسيقي کښې د خان تحصيل او زرسانګې څنو فولکلوري سندرو ته ئې اشارې کړې دي چې زما پۀ خيال د پښتو پۀ تنقيدي ادب کښې دا اوليت د ډاکټر چراغ صاحب پۀ برخه شوے دے چې پۀ يوه نوې او اهمه موضوع ئې تبصره کړې ده او يو د قدر وړ ليکنه ئې پرې کړې ده ـ

پهٔ مجموعي توګه زهٔ د نګارشات چراغ ټولې ليکنې او مقالې د علم سرچينې د فکر و دانش ذريعې او د پښتو ادب ملغلرې ګڼم ـ علم، تحقيق، تنقيد او ادب يو تدريجي عمل دے ـ وخت پهٔ وخت نوې نتيجې راوړاندې کوي او يو صحت مند رجحان پيدا کوي ـ د ډاکټر چراغ صاحب پهٔ دغو ليکنو کښې او پخپله زما پهٔ تبصره کښې به ډيرې داسې خبرې وي چې ډيرو لوستونکو ته به اپيل نهٔ کوي او بې شميره داسې لوستونکي به هم وي چې دغه ليکونه به ئې پهٔ علمي او فکري غنا کښې بې بها اضافه کوي ـ زهٔ پخپله د يو لوستونکي پهٔ حيث هغو کسانو کښې يم چې د ډاکټر صاحب نګارشاتو ما ته ډيرې تنيرې لارې رڼا کړې ـ زما پهٔ فکري او علمي سرمايه کښې ئې بيش بها اضافه وکړه او زما يقين دے چې د نورو لوستونکيو د پاره به هم دا ليکونه د هغوئ پهٔ علمي يون او سفر کښې د سنګ ميل حيثيت اختياروي ـ

پهٔ مينه او احترام
حنيف خليل
ډائريکټر پاکستان سټډيز ، قائداعظم يونيورسټي اسلام اباد
22 مئي 2020 ء